مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوديال ۲۰۲/۰۹/۰۹

# سواد او د سواد نړیواله ورځ

## (یو معلم به نورڅه شي ته خوشحاله وي، پرته له سواده)

لیک - لوست، زده کړه، پوهه ترلاسه کول او تعلیم د بشري نورو حقونو ترڅنګ؛ د هرانسان لومړنی او اساسی حق دی. سواد د انسان بصیرت لوړوي او د ترقی لوری ورښيي. سواد انسان له تیارې څخه رڼا ته بیايي. له همدی امله د بشریت د کلیزو پر مخ یوه ډیره روښانه ورځ د سواد نړیواله ورځ ده.

د سواد د ارزښت ښودني او د سواد دورځې د نمانځنې لومړنی فکر په ۱۹۶۵م. کال کې د تهران په کنفرانس کی مطرح شو. دا هغه کنفرانس و چې د م.م. دغړو هیوادو د معارف د وزیرانو په ګډون داير شوی و. وروسته بیا په ۱۹۶۶م. کې د یونسکو سازمان د سپتمبر اتمه د( International Literacy Day/ILD) په نوم ونوموله او په ۱۹۶۷م. کې ونمانځل شوه. دا دی له هغه راهیسي هر کال په همدې ورځ دیوه ټاکلی شعار او نوم لاندې شانداره نمانځل کیږي اودرناوی ورته کیږي.

اویایمه لسیزه کې ګڼ شمیر هیوادو د سواد او تعلیم برخه کې ِغوره لاسته راوړني لرلي. په دې کې افغانسان هم تر ممکن حده ښوونځیو ته پام کړی و، خو یونسکو متوجه شوچې وروسته پاتې هیوادو کې بیوزله خلک او نجونی له تعلیم پاتې دي، نو اتیایمه لسیزه کې یی دا یوه ورځ د( تعلیم حق دی، نه امتیاز) تر نوم لاندې و نمانځله، په دې ډول د وضعیت په لیدو سره دغی ورځې ته هر کال بیلابیل نومونه او شعارونه غوره کیدل او کیږي. سږنی شعار یی دا دی:

**literacy for a world in transition: Building the foundation for Promoting‘ sustainable and peaceful societies’.**

په هماغه شپیتمه لسیزه کې با سواد ته یو لومړنی ساده تعریف غوره شو: هرهغه څوک چې په خپله مورنۍ ژبه یو ساده متن ولوستل او ولیکلای شی او په مانایی پوه شی باسواده دی. وروسته دې تعریف کې د یوې بهرنی(دوهمې) ژبې تکی هم اضافه شو. د شلمې پیړی په پای کې سواد او باسواده وګړی داسې تعریف شو:

باسواده هغه څوک دی چې د لیک لوست د توانایی ترڅنګ؛ په کمپیوتر لاسبری ولري اوخپله تخصصی څانګه کې ورڅخه کار واخلي.

په دې ترتیب له بده مرغه د دې تعریف له مخې همدا اوس زموږ هیواد کې ډیر خلک بیسواده دي.

د یوویشمی پیړی په بهیر کې چې بشریت نور هم پرمختګ وکړ او د ژوند بیلابیل اړخونه یې بدای او د مادي ښېګڼو ترڅنګ، د معنوی ارزښتونو پاللو او د انسان د مهارت، کرامت او تکامل بشپړتیا ته نور هم ځیر شو، سواد یو بل او نوی تعریف وموند چې په دغه تعریف کی دلیک – لوست او کمپیوتر کارولو څخه برعلاوه، دنن ورځې ضروری شرایط او اړتیاوې شاملې شوی، هغه دا دي:

- یو باسواده وګړی باید دلیک – لوست ترڅنګ عاطفی سواد هم ولری، ترڅو شاوخوا خلکو سره عاطفی اړیکي ټینګي کړای شی،
- یو باسواده وګړی باید دیوهاوی را پوهاوی د اړیکو ټینګولو توانایی ولري،
- یو باسواد وګړی خپل اقتصاد په پوهې سره سمبالوي، د عاید ترڅنګ خپل مصرف ډیرښه سنجوي، د خپلې کورنی مالی مدیریت کوي، سپما کوي او له اسراف ځان ساتي،
- د رسنیو سواد یو بل ضرور شرط دی. د نن ورځې باسوادان خامخا رسنی لولي او په ګڼ شمیر رسنیو کې هغه ګټوری یی ځان او خپلې کورنی ته مهیا کوي،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

- د نن ورځې باسواده انسان (پلار او مور) ټولنې ته مفید، نیک صالح، اخلاقی، دعالی انسانی سجایاوو لرونکی اولاد روزي، یعنی د نیک اولاد د روزنې مهارت او پوهه لري،
- باسواده هغه څوک دی چې د روغتیا په اساسی اصولو( تغذیه، څښاک، له ناروغیو ځان ساتنه، وقایه، واکسین،نظافت...) پوه وی او خپله او د کورنی روغتیا ښه وساتي،
- باسواده وګړی خپل ملت او نژاد پیژني او پرته له تبعیض او تعصب د نورو ټولو نژادنو اوملتونو درناوی کوي،
- باسواده وګړی د چاپیریال اخلاق پیژني او هغه رعایتوي، د ژوند چاپېریال نه زیانمنوي،
- باسواده وګړی د خپل تعلیم او سواد له برکته منطقی تحلیل کوي، غوره نظریات پېژندلای شي، ګټور او نا ګټور، منطقی او نا منطقی مسایل تفکیک کوي،
- باسواده وګړی د وخت او انرژی په مصرف پوهیږي،

په دې توګه د ښه ژوند کولو لپاره پورته بشپړ سواد د نیکمرغه اوسېدو ډاډمنتیا ترلاسه کوي.
د دې ترڅنګ؛ یو بل ډول سواد علمی سواد دی چې د عامو باسوادو خلکو ترڅنګ(برعلاوه)، د علمی مرکزونو منسوبینو ته ضرور دی. دا سواد په عقلمندۍ سره د علمی میتودونو په واسطه مسایلو ته معقوله حل لاره مومي. دا ډله خلک د علمی، مستدل او مستند بحث توانایی لري، نور خلک رهنمایی کوی او د ټولنې لپاره الګو کسان وي. دوی د متعالی انسانی ژوند لپاره فرضیې مطرح او د فرضیو په تحقق اوثبوت سره نظریات وړاندې کوي. د دوی بوختیا علمی څېړنه( Scientific Research) کې وي، په ژوند کې مثبت بدلون راولي او ټولنه مخ په دوام لرونکي اعتلا بیایي.
یونسکو دا هم وایی چې یواځې په یوه موضوع پوهیدل کافي نه دي، بلکې مهمه دا ده چې عمل وربانديې وشي.
هرهغه څوک چې په خپل ترلاسه شوي مهارت او زده کړې پوهې سره معقول، د وخت له غوښتنو سره سم او معنا لرونکی بدلون راوستلای شی، باسواده دی. همدوی ځان او نورو ته ګټور دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ